مورچل

نهم کال، نهمه، پرلپسې ۸۵ یمه ګڼه، ذوالقعدة الحرام، ذوالحجة الحرام ۱۴۳۶هـ ق، سپتمبر ۲۰۱۵م

وروستیو شاندارو فتوحاتو څخه په ډاګه کړل ؟؟

مصعب بن عمیر رضي الله عنه

د میزان پنځلسمه، د امریکایي زوال د پیل ورځ

از فتوحات درخشان مجاهدین تا تبلیغات دروغین دشمن

د کندز په سپینه فتحه د غلیمانو تور الزامات

دمتفکر! سپین ستر کي !!

دامارت پیغامونه

د مجاهدینو وروستیو پر مختګونو د ګډوډۍ رژیم پوځي وړتیاوې ننګوله

اسلامي امارت د درزاچوني پلانونه شنډ کړل



مورچل

نهم کال نهمه، پرلپسي (۸۵) یمه گڼه ، ذوالقعدة الحرام او ذوالحجة الحرام، ۱۴۳۶ هـ ق ، سپتمبر ۲۰۱۵ م

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

لړلیک

گڼه	مطلب	مخ
1	وروستیو شاندارو فتوحاتو څه په ډاګه کړل ؟ .	1
2	دمجاهدینو وروستیو پر مختګونو دګوډاګي	۳
۳	دجهاد فقهي مسائل .	۵
۴	دمیزان پنځلسمه دامریکایي زوال د پیل ورځ	۸
۵	نامتو مسلمان فاتحین (٦) .	۱۰
٦	اسلامي امارت د درز اچونې پلانونه شنډ کړل .	۱٦
۷	نوې فقهي څېړنې .	۲۰
۸	دمتفکر سپین ستر ګي .	۲۵
۹	ازفتوحات درخشان مجاهدین تاتبلیغات	۲۷
۱۰	طالبان مې په لومړي وار مخامخ ولیدل !	۲۹
۱۱	دمورچل وړمي	۳۲
۱۲	دکندز په سپینه فتحه دغلیمانو تور الزامات .	۳۴
۱۳	جنګي جنایتونه (سپتمبر)	۳۷
۱۴	مواردي که حتی ګمان آن هم نمیرود که غیبت	۳۹
۱۵	دامارت پیغامونه .	۴۳
۱٦	میاشتنی خبرونه	۴۵
۱۷	دتلفاتو جدول	۱۳۲

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ایـــوب صـــافی
حـــسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر | حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر

E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سر مقاله

وروستيو شاندار وفتوحاتو څه په ډاګه کړل ؟؟

داوروستۍ ځو اوونۍ دډيرو سوبو او بريالیتوبونو شاهدې دي او د(عزم)توپاني ځپو دکابل چارواکې او يرغلګر دومره وراخطا کړي، چې نور يې نه پينتاګون اونه د بروکسل چارواکې دحوصله افزايي او استقامت ځواک لري او نه دلويديځ دکليساوو پاپان په خپل طلسم باندې دشګو دا بند ټينګولای شي !

هره ورځ او هره شيبه ديوې سترې فتحې ، داسلام او خاورې ددښمنانو دنسکوريدو او داسلامي امارت دمجاهدينو دپرمختګ شاهده وي ،داشغالګرو او ددوئ دمزدورانو اداري واحدونه ،پوځي بارکونه اوځوارلس کلن غښتلي تاسيسات يو په بل پسې په خارق العاده ډول نسکوريږي اودمجاهدينو په وړاندې يې پولادي مورچلونه داوسپنو په شان ذوبيږي.

تردې چې د(لانګ وار ژورنال) په نامه يوه ځيرندوی مرکز په (۱۴ تله، ۹۴ ل) نيټه د يوې نوې ځپرنې له مخې ويلې ،چې د افغانستان له(۳۹۸)ولسوالیو څخه يې(۲۳) د اسلامي امارت دمجاهدينو په لاس کې دي.

ددغه مرکز د راپور له مخې په دغو (۲۳)ولسوالیو کې يې(۲۷) په بشپړه توګه له طالبانو سره دي او(۳۲) نورې يې په داسې توګه له طالبانو سره دي، چې يوازې د ولسوالۍ مرکز له غلامې اداري سره دی.

بي له شکه دکندز ولايت بشپړه فتحه او دتخار، بدخشان ، سرپل ، بغلان ، پروان او فارياب په ګډون دهيواد د شمال ، سويل او ختيځو ولايتونو کې دولسوالیو مرکزونه او امنيتي هستې په بشپړه توګه فتحه کيدل، هغه ځمکنۍ حقايق دي، چې يرغلګروته ډيره ليرې، خو مجاهدينو ته د داسې الهي فتحو کرشمې لاله وړاندې نه تلقين شوي وي ، مجاهدين چې دبري رمز په مادي وسايلو کې نه، بلکې په معنوياتو کې کوت، دادی دالله تعالی په مرسته يې دسترو سترو سوبو جوت مظاهر وليدل او لايې کتلو ته شيبې شمارې !

دکتونکيو له نظره هره ورځ د دومره شاندارو فتحو قافلې په ډاګه کوي، چې نور افغان مسلمان ولس نه غواړي، چې د دې نه وروسته دلويديځو يرغلګرو په استعمار کې دتل لپاره پاتې شي او ديوه غلام او بي واکه حکومت تر سيوري لاندې ژوند وکړي.

مجاهد ولس مو د دې وروسته د دې زغم نلري ، چې يايې دقرآنکريم بي حرمتي وشي ، يايې دحضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم نا جايز تمثيلونه وکښل شي اويايې هم داسلامي کلتور پر ځای غربي اونا اسلامي تهذيب رايج شي ، د دې وروستيو سوبو نه په ډاګه څرګنده شوه ، چې دطالبانو اسلامي تحريک داسلاميت سربيره ولسي رنګ لري او داحرکت په خپل مؤمن ولس کې ژوړې ريښې لري ، دولس له نغړې راپورته شوي بڅرکې دي ، چې دا دی له څوارلس کلن اشغال وروسته بياد هيښونکيو فتحو معراج ته ختونکی دي او انشاءالله تعالی ډيره ژر به وي، چې دفتحو د تسلسل په پولادي ځنځير دهيواد دپلازمينې په ګډون دنورو پاتې ولايتونو مراکزهم يو په بل پسې تسخير کړي او هيواد وال دتل لپاره داجنبي عسکرو له ظلم واستبداد نه خلاص کړي.

دشمال وروستيو فتوحاتو په اثبات ورسوله ، چې مجاهد ولس د دې فيصله کړي، چې داسلامي امارت تر بيرغ لاندې به، نور د دې کمونستي اوغرب پالو خونکارو مليشو تغر له هيواده ټولوي او غربي او امريکايي بادارانو ته به يې دسرپه کاسه کې اوبه ورکوي ، دمؤمنو پرګنو دصبر کاسه ډکه شوي او په کلک عزم به دعزم والو اتلانو شاته ودريږي او دخپلو ارمانونو پايلو ته به ځانونه رسوي !!

دماذالک علی الله بعزيز

دمجاهدينو

وروستيو پر مختګونو دګوډاګي رژيم پوځي وړتيا ونګوله

شاهد (غزنيوال)

د سږ کال له پسرلي راهسي په هيواد کې د عزم په نوم جهادي عمليات پيل شوي .

د غو عملياتو د هيواد له شماله بدخشان ، کندوز او بغلان څخه زور واخيست ، سرپُل ته وغزيدل ، کندز سقوط وکړ او فارياب يې سقوط ته نږدي کړ ، په جنوب لويديځ کې يې دهلمند په استراتيژيک ولايت کې د نوزاد او موسی کلا په ځير مهمې سوق الجيشي سيمې له دښمن څخه ونيولې .

په شمال ، جنوب او مرکز سرپيره په کابل پلازمينه کې هم يادو عملياتو دښمن ته ملا ماتوونکی ګوزارونه ورکړل .

د کابل له نړيوال هوايي ډګر نه نيولې د خارجي يرغلګرو تر پوځي مرکزونو او د رژيم د ملي امنيت اړوند تر مهمو پوځي او استخباراتي تأسيساتو پوري يې ټول وټکول ، او د خارجي يرغلګرو او د رژيم د امنيتي جاسوسانو په اغفال سره يې د هغوی په داخل کې تکتيکي بريدونه تر سره کړل .

هغه څه چې د مجاهدينو له دغو عملياتو څخه نتيجه ګيري کيږي ،هغه داچې داعمليات بريالي هجومي روحيه لري چې نه يې دښمن د مخنيوي توان لري او نه يې هم تر تنفيذ او اجراء له مخه د هغوئ معلومات تر لاسه کولای شي.

همدا لامل دی چې هغوی د مجاهدينو د تهاجمي بريدونو په مهال په سراسيمه ډول يواځې د ځان په دفاع لاس پوري کوي او په دې حال کې د ډيرو تلفاتو متحمل کيږي.

همدا راز دغو تهاجمي عملياتو په خپل قاطعيت سره د خارجي يرغلګرو تبليغاتي پروپاګنډ او دهغوی پوځي پلانونه ټول له ماتې سره مخ کړلې.

امريکايي پوځي چارواکو به مخکې په دې خبرو نړيوال تير ايستل چې د ناټو پوځيانو په لاس روزل شوي افغان پوځيان د دې وړتيا لري چې په هغو سيمو کې چې خارجي ځواکونه تري وزي په يواځې سر د طالبانو د عملياتو مقابله وکړي.

خو د سږ کال په پیل کې چې په بدخشان ، کندوز، بغلان ، تخار ، هلمند ، زابل ، غزني او... کې د رژیم د ځواکونو پر خلاف پوځي عملیات پیل شول ،هلته ولیدل شول ،چې مجاهدینو یو په بل پسې ډیرې پراخې سیمې په ډیرې آسانۍ سره د رژیم له ځواکونو ونیولې، چې د هلمند په ولایت کې د نوزاد او موسی کلا سیمې د بیلګې په توګه یادولای شو.

په شمال په تیره بدخشان او کندز ولایتونو کې که د مجاهدینو د عملیاتو په مقابل کې له رژیم څخه د خارجي پرغلګرو هوایي ملاتړ نه وای، نو د کندزغوندې به ددغوشمال ولایتونو د مرکزونو په شمول د ټولو سیمو د سقوط احتمال یقیني و.

له دې سره د خارجي پرغلګرو هغه تبلیغاتي لافې هم ټولې دروغ ثابت شولې کومې چې دوی د رژیم داجرتي ځواکونو د پوځي ورټیا په اړه وهلې.

په هیواد کې دمجاهدینو د پوځي عملیاتو شدت امریکایان دیته مجبور کړل چې په ډیره سپین ستر ګې سره د رژیم له مورال بایللو عسکرو څخه دهوایي حمایت اعلان وکړي .

امریکایانو ځکه د خپلو مخکینیو ادعاوو برخلاف په دې سپین ستر ګي لاس پوري کړ ، چې هغوی وبیریدل چې که له داخلي ماتې خوړلو عسکرو څخه هوایي حمایت ونه کړي ،مجاهدین به په ډیر کم وخت کې ټول شمال تر خپل کنټرول لاندې راولي.

امریکایان کوښښ کوي چې تر ډیر وخته پوري خپل مزدور رژیم په همدغه نیم ژوانده وضعیت کې پر افغانانو تپلی وساتي.

ځکه د دې مزدور رژیم بقاء تر ډیرو پوري په افغانستان کې د نیابتي جګړو دوام تضمینوي.

همدا الامل دی چې هر وخت هغوی دادرک کړي، چې لاس پوځي رژیم یې سقوط ته نږدې کیږي سمدستي یې پوځي حمایت ته وردانګي اوله سقوط څخه یې ژغوري .

داچې داشرف غني په مشرۍ ګډ حکومت دامریکایانو د مستقیم وصایت او مداخلې محصول دی ، ځکه یې د بقاء او پایښت مسؤلیت هم هغوی په غاړه اخیستی .

د مجاهدینو سږنیو عملیاتو دا خبره هم امریکایانو او هم نړیوالو ته برښنه کړه ، چې د ګوډاګي رژیم هغه اردو چې پرغلګرو یې په روزلو او تجهیز ولو باندې په لس ګونه ملیارده ډالر لګولي د خپلو خارجي بادارانو له فعال شتون او د هغوی له هوایي حمایت پرته یوه ورځ هم د مجاهدینو په مقابل کې د ټیکې او مقاومت توان نه لري

د جهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

۲۱ برخه

مفتي ابو محمد (حقاني)

جنګ کې د دښمن له ویرې شاتګ /الفرار من الزحف!

کله چې د جهاد په ډګر کې د مسلمانانو له شمیر څخه د کفارو شمیر له دوه برابره څخه هم زیات وي، خو د مسلمانانو د اټکل او ګمان له مخې د کفارو د دوچنده کیدو سره بیره به بیا هم د دوئ پر دښمن غالب شي ،نو د (الموسوعة الفقهية) د تحقیق له مخې دې وخت کې اولی او غوره خبره ورته د مصلحت له مخې داده ،چې مجاهدین شاتګ ونکړي او له استقامت او ثبات څخه کار واخلي، خو که د دې اټکل او ظن سره بیره یې بیا هم شاته تګ وکړ، جائز ده او کوم حرج پکې نشته ،ځکه دوئ د دښمن له یرغل څخه محفوظ ندي او حکم د دوئ په مظنت او اټکل راځرخي ،چې هغه د دوئ (مسلمانانو) له کفارو څخه کم جنګي شتون او د شمیر کموالی دی، لدې امله که له نیمایي څخه زیات وو، نو که د تلفاتو احتمال یې غالب هم وو بیا هم پرې استقامت او ثبات لازم دی (الموسوعة الفقهية).

په (الموسوعة الفقهية الكويتية) کې بيا ليکي :چې که چيرته دمجاهد ينو مظنت او ګمان داسې و ، چې دجنګ په ډګر کې ددښمن ددوه برابره شمير سربيره که په سنګرونو کې بيا هم پاتې شو ، نو په غالب ګمان چې مونږ به (خدای ج مکړه)شهيدان شو ، نو دې کې دوه وجه دي ،يو داچې دوئ ته دالله تعالى ددې قول له مخې }وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ سورة البقرة /195 .{روا ده چې خپل مورچلونه پريږدي او شاته تګ وکړي او دويمه خبره داده چې ورته ددې ګنجايش نشته اونه ورته روا ده ، چې شاته تګ وکړي او همدا خبره صحيح ده ، دليل يې دادی چې الله تعالى فرمايي: }إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا- سورة الأنفال /45 .{ ددې دويمې وجه دقوت او صحت دليل دا هم دی چې مجاهد چې جهاد کوي ، نو ددوه ښيګڼو يا خوشحالیو ترلاسه کولو لپاره ليوال وي ، يا داچې شهادت به ورته په برخه شي او يا داچې فتحه او غنايم به ترلاسه کړي (ولأنّ المجاهد إنّما يقاتل على إحدى الحسنيين الشّهادة أو الفوز بالغنيمة مع الأجر .) .لکه چې الله تعالى فرمايي: }إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ- سورة التوبة /111 .وانظر :المهذب 2 /232 ، ونهاية المحتاج 8 /62 .{.

په (شرح السير الكبير)کې کاږي چې دحنفي مذهب دريم امام محمد بن الحسن الشيبانى رح فرمايي چې((وقد قال محمّد بن الحسن :لا بأس بالانهزام إذا أتى المسلم من العدوّ ما لا يطيقه ، ولا بأس بالصّبر أيضاً بخلاف ما يقوله بعض النّاس من أنّه إلقاء بالنّفس إلى التّهلكة ، بل في هذا تحقيق بذل النّفس في سبيل الله))ژباړه: که چيرته دمسلمان دکافر سره دمقابلې وسه نه کيده او دهغه دمقابلې طاقت يې نه درلود ، نو باک نشته که شاته تګ وکړي او انهزام وکړي او بيا فرمايي چې که صبر وکړي او شاته تګ ونکړي ، نو هم باک نلري ،داخبره دهغه چا دنظر خلاف ده ، چې وايي چې دا صبر يا استقامت کول ځان په لوی لاس هلاکت کې غوځول دي ، بلکې دا تحقيقاً دالله تعالى په لاره کې دخپل ځان قرباني او بذل النفس دی .(شرح السير الكبير 1 /88).

امام حصکفي رح په (الدر المختار)کې کاږي: چې که چيرته دا مجاهد پوهيده ، چې که احياناً جګړه کوم ، نو وژل کيږم (شهيد کيږم)او که جګړه له کافر سره نه کوم ، نو اسير يا بندي کيږم ،نو پدې صورت کې پرده باندې قتال لدې کافر سره لازم ندی ،او که چيرته دمجاهد ينو غالب ظن يا اتکل داسې وو ، چې که شاته تګ کوو هم ، له مينځه مو کافر وړي او که ورسره جګړه کوو ،نو هم مو له مينځه وړي ،يعنې دانصراف او اقامت دواړو حالتونو کې يې په ګمان ورته شهادت محتمل و ، نو پدې صورتونو کې دې مجاهد ينو ته استقامت او په جنګ باندې صبر کول اولى او غوره دی ،داددې لپاره چې دوئ دهغو شهيدانو درجاتو ته ورسيږي ،چې داجر په نيت په مخامخ جګړه کې شهيدان شي ، نه داچې دشاته تګ يا ادبار په صورت کې

ورته د دښمن مرمۍ اصابت وکړي او د شا لخوا شهید شي ،لکه چې الله تعالی فرمایي: }كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللهِ وَاللهُ مَعَ الصَّابِرِينَ -سورة البقرة /249 .{ -(والدر المحتار بحاشية ابن عابدين 3 / 222.).

شوافع حضرات رح وایي :چې د(۲۰۱)تنو کمزوریو کفارو څخه د(۱۰۰)اتلو مسلمانانو تیښته حرامه ده، خو که چیرته(۱۰۰)تنه کمزوري مسلمانان له(۱۹۹)پهلوانانو جنګي کفارو څخه شاتګ وکړي، په اصح قول جایز ده او کوم باک نلري ،ځکه اعتبار معنی ته دی(الموسوعة الفقهية ج۱۲ص۱۲۰)

د جنګ پر وخت د جنګیالیو د تساوي او عدم تساوي شمیرنه او پرتلنه او اختلاف هغه وخت مد اعتبار دی، چې په دخیلو خواووکې تقارب داوصافو معتبر وبلل شي ،نو دې وخت کې چې اوصاف یې متقارب وي او سره برابروي ، که یو جنګي زیات یا کم وي او یا هم یو پلی او بل ماشي وي، نو هم باک نلري. (نهاية المحتاج 8 /66، 67.)

احناف فقهاء رح فرمایي :چې پدې باب کې حکم اعداد وته نه، بلکې غالب ګمانا و غالبي رأیې ته دی ،که چیرته د غازیانو غالب ګمان داوه، چې د دښمن پروړاندې مقاومت کولای شي، نو ورته استقامت لازم دی ،اګر که د دې ګمان سربیره یې شمیر تر کفارو لږ هم وي ،خو که د کفارو څخه د مجاهدینو د تکثر سربیره یې غالب ګمان یې داوه، چې دوئ به مغلوب شي ،نو باک نشته که دوئ دا ځای پریږدي ، شاته تګ وکړي ،نورو مسلمانانو ته پناه یوسي او د دئ څخه مرسته وغواړي ،همدا سې که کوم مجاهد سره وسله نوي او د دوو داسې کافرو عسکرو سره جنګ کې مخامخ شي، چې هغوئ مسلح وي او یا له یوه کافر عسکر سره پداسې وخت کې مخ شي ،چې هغه سره وسله وي او له ده سره نوي، نو باک نشته که دا خالي سلاح مجاهد مورچه پریږدي او د بلې سترې جهادي ډلې سره یو ځای شي ،لکه همدا مسئله په(الموسوعة الفقهية)کې (دالبدائع الصنائع او فتاوی شامیه)په حوالو سره پداسې عبارت راغلې ده :وذهب الحنفيّة إلى أنّ الحكم في هذا الباب لغالب الرّأي ، وأكبر الظّنّ دون العدد فإن غلب على ظنّ الغزاة أنّهم يقاومونهم يلزمهم الثّبات ، وإن كانوا أقلّ عددا منهم ، وإن كان غالب ظنّهم أنّهم يغلبون فلا بأس أن ينحازوا إلى المسلمين ليستعينوا بهم ، وإن كانوا أكثر عددا من الكفرة.....

)البدائع 7 /98، 99 ، وابن عابدين 3 /224.)

نورییا.....

دمیزان پنځلسمه

دامریکایي زوال دپیل ورځ

(شهاب)

څوارلس کاله وړاندې د میزان په پنځلسمه نیټه چې د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر له ۷ مې سره برابره وه امریکایي طاغوتیانو په ډیر کبر او غرور، په ډیره بې رحمي او قساوت او په ډیره ظالمانه او غیرمنصفانه توګه د افغانستان په مظلوم اولس هوایي بریدونه پیل کړل.

دا د کوریا او ویتنام له جګړو وروسته په یوه هیواد د امریکایانو لومړنی پراخ او اشغالګرانه برید و، د امریکا متحده ایالاتو چې د شلمې پیړۍ په وروستیو نیمایي کې د نړۍ یو له دوو سترو زبرځواکونو څخه بلل کېده، د شوروي اتحاد په نړېدو او پاشل کېدو سره د نړۍ یوازینی ابر قدرت شو.

شوروي اتحاد د افغان د تورې زور اود وینو سیلاب لاهو کړ، مګر د قهرمانۍ او میدان ګټلو دعوه یې امریکایانو وکړه، د امریکایانو له فکر او دماغه چې د شوروي اتحاد د ویرې او وهم خپسه پورته شوه، نو یې د فرعونیت دعوې پیل کړې، د نړیوالتوب او نوي نړیوال نظم طرحه یې اعلان کړه، د امریکا برتري یې د تاریخ پای وګانه، یوویشتمه پیړۍ یې امریکایي پیړۍ ونومولې او د همدې فرعوني خیالاتو په اوج او موج کې یې د خپل پوځي زور د نمایش لپاره په ډیره ناځوانۍ په هغه افغان اولس برید وکړ چې د دوی له سره یې د کمونیزم د ډار خپسه پاځولې وه.

مګر هغه سالک رښتیا ویلي و چې :الهي اهر که را خواهی براندازی ، با درویشان دراندازی

په افغانستان د امریکاد متحده ایالاتو برید په حقیقت کې د دې نړیوال زبرځواک د زوال د پیل ورځ وه، له هماغې نیټې د امریکا تدریجي زوال پیل شو ،افغان اولس د امریکایانو په خلاف یو اوږد او نه ستړي کیدونکي جهاد ته مټې رابډوهلې، امریکا چې څو لسیزې یې ځان د جګړې له ځاني او مالي خونریزۍ څخه ساتلی و یوځل بیا یې ډک رګونه سوري شول او د وینو فوارې تري بهانده شوې، امریکا په یوه داسې جګړه کې ونښته چې هم یې تري

سرونه خوړل اوهم پيسې، هم يې رګونه ورتشول او هم بانکونه.

ددې جګړې له امله امريکايي غرور او نړيوال حيثيت په ځمکه ولګېد ،د امريکا د ځواک او قوت افسانه مسخره شوه، امريکايي پوځ د ځواکمن او فاتح پوځ په ځای د تښتيدونکي او ډارن پوځ په حيث معرفي شو ، ورسره يوځای په نړيواله کچه هم امريکايان د ظالمانو ، اشغالګرانو او تجاوزګرانو په حيث معرفي شول، د امريکا دوديز سيالان يوځل بيا راپورته شول او د امريک نړيواله يکه تازي يې چيلنج کړه.

همداوس چې ددې يرغل څوارلسمه کليزه پوره شوې، مورږ وينو چې امريکا هغه امريکا نه ده چې څوارلس کاله پخوا وه، نه څوک تړې ډاريږي او نه يې زبرځواکي په رسيمت پيژني، په اقتصادي ډګر کې زړه چې د زبرځواکۍ ميدان چين ته وبايلي او په سياسي او پوځي ډګر کې يې نړيوال حيثيت د روسيې لخوا چيلنج شوی دی، امريکا نه تنها داچې افغانستان يې د خپلې مستعمرې په حيث په خپل قلمرو کې اضافه نه کړای شو بلکې د خپل نفوذ پخوانۍ سيمې هم تړې د لاسه وتو په حال کې دي، دامريکايي طاغوت ددې زوال پيلامه د افغانستان جګړه وه، هوکې افغان مجاهد اولس يوځل بيا وتوانېد چې دالله تعالی په مرسته د نړۍ يو بل فرعون د کبر او غرور له ستيج څخه راوغورځوي.

سيرت څيړنه - د مشرانو درناوی

جرير بن عبدالله البجلي رضي الله عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغی، رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي کور کې ناست و چې هغه له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه ډک و، جرير په دروازه کې ودريدی، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد يوه بل لور ته يې وکتل او خالي ځای يې تر سترګو نشو، نو يې خپل څادر تاو کړ او جرير رضی الله عنه ته يې ور وغورځاوه، او ورته ويې ويل چې په دې څادره باندې کښېنه.

جرير رضی الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څادر ورواخيست له سينې سره يې ولګاوه ښکل يې کړ او بيرته يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ور کړ او ورته ويې ويل: يارسول الله! الله دي ستا داسي عزت وکړي چې زما عزت چې دي وکړ ، رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وويل: کله چې تاسو ته د کوم قوم عزتمن مشر راشي نو تاسو د هغه عزت وکړئ. (حياة الصحابه ج ۲ ص ۵۶۳.)

جرير بن عبد الله رضی الله عنه د بُجيله قبيلې مشر و دلسم هجري کال په رمضان کې يې اسلام منلی و، ويل کيږي دی ډير زيات ښايسته و، د ښايست په اړه يې عمربن الخطاب رضی الله عنه وايي: جرير د دې امت يوسف دی. البدايه والنهايه.

له دې روايت نه يوه مهمه ګټه دا ترلاسه کولی شو چې بايد د مشرانو درناوی او احترام وکړل شي، مشران بايد پخپلو کې هم د يوه بل احترام وکړي او کشران خامخا بايد د مشرانو احترام وکړي دا خبره په نورو روياتو کې هم بيان شوې ده، دارازله روايت نه دا هم معلوميږي چې څوک ستا احترام وکړي بايد د هغه متقابل احترام وکړل شي او خپله مينه او د هغه په احترام خوشالي ورته ښکاره کړل شي لکه جرير چې د رسول الله د څادر په ښکلولو او هغه ته په دعا کونو سره خپله مينه او خوشالي ښکاره کړه، او که په ټولنه کې دا ډول درناوی، احترام او ورته متقابل چلند رامنځته شي خامخا به په خلکو کې مينه، درنښت او احترام وده کوي.

نامتو مسلمان فاتحین (۶)

داسلام لومړنی استازی او د قرآنکریم لومړنی استاد

حضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه

د(بدر) او (احد) غزاګانو کې داسلام دتوغ ساتونکی

لومړی پرځ — مفتي حبیب الله قاسمي

یادونه :که څه هم دپیغمبرصلی الله علیه وسلم هر صحابي یو ګل دی، چې هریو ګل یې ځانګړی بوی او رنګ لري، زه په صحابه وو رضی الله عنهم کې له دې ځوان صحابي سره څکه زیاته مینه لرم، چې ډیر د نازژوند یې درلود ، اوله شتمني کورنی څخه وه ، هره ورځ به یې نوې جامې بدلولې او ګران بیه خوشبویي به یې کارولې ؛ خو د اسلام په لاره کې یې داهرڅه داسې ځار کړل، چې د شهادت په ورځ یې کفن هم نه موند ، په دې پانو کې غواړو د همدې نازولي ځوان پر ژوند او د اسلام په لاره کې د نوموړې پر خدمتونو او د وېرجن شهادت کېسه در سره شریکه کړم.

[۱] دحضرت مصعب بن عمیر رضی الله عنه پېژندنه

معصب رض چې خپل کنیت نوم یې ابومحمد و ، د عمیر زوی ، د هاشم لمسی و .په قام قریشي و ، او دنسب لړۍ یې داسې وه :مصعب د عمیر زوی دهاشم لمسی او عبدمناف کړوسی او د عبد الدار بن قصی کوسی ، منځنی ونه یې لرله .

[۲]: ځانګړې او خوښونه

.حضرت مصعب ډیر ځیرک ، ښه رنګی او خوش طبعه ځوان و ، موریې ((خنس)) نومېده ، د مالک لور وه، چې ډیره زړوره او نامتو ښځه وه ، دی وربانديې ډیر ګران و ، زیات به یې نازاوه ، په عین حال کې مصعب ښه ځواني هم لرله ، هغه مهال به یې پرځان ډیرې ګوتې هم وهلې ، وېښتان به یې په مشکو غوړول.

داسې نوې ګران بیه جامې به یې اغوستې ،چې د هرچا د وس خبره نه وه ، ډیر قیمتي عطر به یې هم کارول ، تردې چې په کومه کوڅه به تېر شو ؛ نو هرڅوک به پوهېدل ،چې په دې کوڅه مصعب تیر شوی دی، ځکه ټوله کوڅه به دده د عطرو خوشبویې اخېستې وه.

پوښاک به یې هم دغسې قیمتي و او د ((حضرموت)) ښار پیزار به یې په پښو کول، چې له واکمنو پرته به بل چا نه شوای پښو کولای، له دې ټولوځانګړنو سره سره د ښه خوی خاوند هم و ، هرچا به هېله لرله، چې مصعب ورسره کښېنې ،ځکه پرده به هرچا خپل مجلس ښایسه ګانه.

دا دده هسې ځانګړنې وې، چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم به یې هم په مجلس کې داسې یادونه کوله :((ما د مصعب غوندې ښایسته ځوان او د ښه پوښاک خاوند او په نازونوکې لوی شوی بل سړی نه دی لیدلی))

[۳]: داسلام راوړلو کیسه

داسلام دبلنې لومړنۍ شپې ورځې وې اوپه هرمجلس کې به د اسلام او مسلمانانو دبلنې خبره د مشرکانو ترمنځ توده روانه وه، چې دقریشو محمد (صلی الله علیه وسلم)دعوه کړیده، چې دی د الله پاک استازی دی اوخلک دیوه خدای پاک عبادت ته ور بولي ،دغې خبرې به حضرت مصعب رضی الله عنه هم په ډیر غور سره اوریدلې ، اخر پریکړه یې وکړه، چې د((صفا)) غونډۍ ته ځېرمه د مسلمانانو دبلنې اوراتولیدو ځای ((دار ارقم)) ته ورشي ، هلته خو واړې ورغې ، دوی ته به پیغمبرصلی الله علیه وسلم د قرانکریم آیاتونه په ډیره مینه اوږه سواندی لوستل، دوی به په ډیر مینه تړې اوربدل، چې دېرته تګ پرمهال به یې له ځان سره زمزمه کول ، دوی ته به پیغمبر صلی الله علیه وسلم خوږې او د مینې ارزښناکې خبرې کولې اودوی به هغه اوریدې ،څه وخت چې ووت نو قرانکریم آیاتونو او دغو خوږو اواغېزناکو خبرو یې زړه ته لاره وموندە.

د ده یوازې له موره ډیره سترګه کېده ،خوبیایې هم زړه غټ کړ او هغه وخت راغې، چې په همدې کور کې یې د پیغمبرصلی الله علیه وسلم په وړاندې داسلام کلمه وویله او له موره پټ یې ایمان راوړ، له مسلمانیدو وروسته دنورو مسلمانانوپه څېر به تل دې کورته پټ تګ راتګ کاوه ، قرانکریم به یې زده کاوه او دغه راز د لمانځه طریقه هم زده کړه ، او ښه لمونځ به یې کاوه.

[۴]: داسلام په لاره کې کړاوونه ګالل.

یوه ورځ یې پام نه و، او ((دار ارقم)) ته ننوت، چې د شا له لورې حضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنه په همدې حالت کې ولیده ، بیایې په لمانځه هم

ولیده، سمدلاسه یې مورورباندې خبره کړه، مور یې چې خبره شوه، نو ورسره ټوله مکه دده په ایمان راوړلو خبره شوه.

ددې خبرله اوریدو سره سم یې د مور او کورنۍ غړو هغه پخوانۍ بېساري مینه په سخته کرکه اونفرت واوښتله، مور یې وواهه، بیا یې په رسۍ وتاړه اوپه یوه تیاره کوټه کې یې وغورځاوه. ده داهرڅه په ډیره مینه اوصبر سره زغمل اوله اسلام راوړلو وروسته یې پرځان ګوتې وهل هم پرېښودل.

[۴]: حبشې ته دوه ځله هجرت.

ده دداډول کړاوونو ډک ژوند تېراوه، تردې چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم

ته اجازه وشوه، چې ملګري یې حبشې ته هجرت وکړي، دی هم له کوره په پټه ووت او دمهاجرینو له لومړنۍ شپارس کسیزې ډلې سره یوځای شو، چې حبشې ته روانه وه، جبشه کې له یوځه وخت تېریدو وروسته دوئ ته په درواغو آوازه راغله، چې مسلمانان بریالی شوي اوپه مکه کې هرڅه ددوئ واک ته لویدلي دي، مصعب دهمدې آوازې په اساس بېرته مکې مکرمې ته راغی، خو وې لیدل چې آوازه درواغ وه اومسلمان اوس هم هماغسې دبېوسۍ شپې ورځې تېروي؛ نو دوهم ځل بیا دحبشې لورته دمهاجرینو له سترې اتیاکسیزې ډلې سره مهاجر شو.

[۵]: بېرته مکې ته ستنېدل.

د هجرت دپردیسۍ اوبېوسۍ په ژوند کې یوازې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بېلتون ډیر ځوریده، هغه و، چې له حبشې بېرته بیا مکې مکرمې ته ستون شو، د هجرت سختیو اوکړاوونو ډیر ځورولی و، اوس یې نه هغه ځواني پاتې وه، نه هغه ښکلې غوړو بښتان او نه یې هم هغه ښکلې ګرانبیه جامې! مخ یې د خزان د پانو په ځېر زیړ اوښتی و، پښې یې چاودلې وې، اوس نو په مکه مکرمه کې خړپړ، په پیوند کړو جامو کې ببر سر ګرځېده.

[۶]: له نعمتونو بې برخې کېدل اوله مورسره دوروستۍ دیدن

په ستونزو کې یې همت او استقامت نه وو بایللی، په همدې کې د مور لیدا ته ورغی، هغې هڅه وکړه، چې بیایې زنداني کړي؛ خو ده په ټینګار ورته وویل: چې هغه څوک به له ژوندې بې برخه کړم، چې زما د ترلو هڅه وکړي، مور یې چې کلک هوډ ولیده؛ نو له خپلې پریکړې وګرځیده؛ خو په زاریو او ننواتو یې ورته پیل وکړ، خو ده یې پروا ونه کړه او له کوره چې ووت، مور یې ورته وویل: زویه ورځه! ولاړ شه! خو چې بیا راشي بیابه دې زوی نه بولم،

ده ورته وویل: ای موریې! زه ستا خواخوږی او خیر خواه یم، زما په زړه کې ستا له پاره غرونه غرونه مینه او تلوسه پرته ده، خیر دی موریې دا ګواهي ورکړه چې:

له الله پاک پرته بل خدای ج نشته او محمد صلی الله علیه وسلم یې استازی او رسول دی. مور یې په ډیره غصه داسې ځواب ورکړ:

((په ستورو لوړم ، زه به ستاسو دین ونه ومنم ، که چېرته يې ومنم بيابه مې نوم سپک او عقل به مې کمزروی شي)) .

دواړه د تل له پاره سره ځواب شول ، چې ورسره نه يوازې د مور له نازه بې برخې شو ، بلکې له ښو کالیو ، قیمتي پیزار او ګرانبیه خوشبیو څخه هم بې برخې شو ، په شپو شپو به وړې و ، پیوند کړي کالي به يې اغوستل ، د مور بهلتون او له نعمتونو بې برخې توب يې يوازې د خپل ایمان په خاطر پرځان ومانه ، دی پوهیده ، چې دا مهال د اسلام مبارک دین همدا سې قرباني غواړي.

[۶]: د حضرت مصعب رضی الله عنه پر بېوسۍ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اوښکې.

مصعب رضی الله عنه له هر راز دنیاوي خوندونو او عیشونو څخه له دې امله بې برخه شو ، چې په زړه کې يې دنیکو چارو مینې ځای نیولی و .تل به خړ پر ګرځیده ، یوه ورځ په همدې حالت کې نبوي جومات ته ورغی ، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې سترګې پرې ولګیدلې ، خوا يې ورته بده شوه او هغه پخوانی حالت يې ورياد شو ،په مبارکو سترګو کې يې اوښکې ډنډ شوې او صحابه وو رضی الله عنهم ته يې مخ راوړه او ورته ګرل يې :

دا سړی پیژنئ ؟

دا دمکې بنکلی او نازولی ځوان و ، چې يو وخت ټولې مکې د ده په خبر بل نازولی ځوان نه لاره ، نه هم په ټوله مکه کې دده په خبر ګرانبیه جامې بل چا نه اغوستلې، خو دا هرڅه يې دالله پاک او دهغه درسول ص ترمینې ځار کړل.

[۷]: د قرانکریم او دیني علومو لومړنی استاذ او د جمعې د لمانځه لومړنی امام !

.ځرنګه چې حضرت مصعب رضی الله عنه به تل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ګډون کاوه، چې دهمدې ګډون له امله ترې ښه عالم او د قرانکریم ښه استاد جوړشو ،ځومره آیاتونه به چې نازلیدل هغه به يې په یادو یادول .

دعقبې له لومړني بیعت وروسته د یثرب شپږکسیزې ډلې له ایمان راوړلو او بیعت کولو وروسته له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه غوښتنه وکړه ،چې مورته د قرانکریم او دیني علومو یو استاد راکړه ،چې مورږې له ځان سره ((یثرب)) ته بوځو او مورته قرانکریم او د اسلام احکام را وښیي ، د دې ستر کار له پاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم همدا ځوان حضرت مصعب رضی الله عنه غوره کړ او له دوئ سره يې د استاد او ښوونکي په توګه مدینې منورې ته واستاوه.

په مدینه منوره کې د جمعې ورځې لمونځ دهمده په هڅو پیل شو اودی د جمعې د لمانځه لومړنی امام ګنل کیږي .

[۸]: په یثرب کې د اسلام له پاره بې ګډه کوششونه

دا چې کله مدینې منورې ته ولاړ ؛ نو هلته به يې د اسلام بلنې کار ته کلکه ملا وترله او د نامتو صحابي اسد به زراره رضی الله عنه په کور کې به اوسیده ، نه به يې شپه کتله او نه هم ورځ ، بلکې

کور په کور به ګرځیده او مسلمانانو ته به یې قرانکریم ورزده کاوه او خلکو ته به یې له کوم توپیر پرته د اسلام بلنه ورکوله ، او د اسلام ښېګڼې به یې ورته بیانولې.

کله چې دنوموړي دهڅو له برکته د مسلمانانو یو ډله هلته تیاره شوه ؛ نو بیابه د قرانکریم د درس او لمانځه له پاره کله د حضرت سعد رضی الله په کور کې را تولیدل او کله به هم دبني ظفر په کور کې ،خلک به یې په ډیره نرمۍ اوهوښیارتیا اسلام ته رابلل.

[۹]: دیثرب د مشرانو مسلمانېدل

یوه ورځ حضرت مصعب رضی الله عنه دبني ظفر په کور کې و او خلکو ته یې د دین بلنه ورکوله ،چې په دې کې د عبدالاشهل قبیلې مشر حضرت بن معاذ رضی الله عنه (چې هغه وخت یې ایمان راوړی نه و) خپل ملګري حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه ته (چې هغه وخت یې ایمان راوړی نه و (وویل :تاسو د اسلام دغه بلنه وی له خپل کلی وشړئ ، ځکه زموږ غریب خلک یې راته بې لارې او ګمراه کړل ، هغه و ، چې حضرت اسید رضی الله عنه خپله نیزه راواخېسته سمدلاسه په ډیر غصه د بنو ظفر کور ته ورغی او حضرت مصعب او حضرت سعد ته یې په ډیر قهرجنه لهجه وویل :ته دلته چاراغوښتی یې ، ته زموږ غریب خلک بې لارې کوي ، که چېرته ځان درباندې ګران وي ،نوغوره داده ،چې له دې ځایه خپلې پښې سپکې کړي.

حضرت مصعب رضی الله عنه په ډیره نرمۍ ورته وویل :تاسو کښینئ او زما خبرې په بشپړ پام سره واورئ، که چېرته مو خوښې شوي نو ویې منئ او که مو خوښې نه شوي بیابه موږ له دې ځایه ولاړ شو ، هغه و ، چې حضرت اسید رضی الله عنه خپله نېزه په ځمکه کې وټومبله او کښېناست ، ده د حضرت مصعب رضی الله عنه خبرو ته غوږ په ډیر غور اېښی و ، حضرت مصعب رضی الله عنه لومړی د قرانکریم څو ایاتونه تلاوت کړل ، بیایې په ډیر ښه انداز د اسلام بلنه بیان کړه، بیایې د اسلام ښېګڼې بیان کړې.

دده خبرو د حضرت اسید رضی الله عنه زړه ته لاره وموندله ، اوبې اختیاره یې له خولې ووتل : داڅومره ښه مذهب او دین دی ، دې مذهب ته دننوتلو لاره کومه ده ؟ حضرت مصعب رضی الله عنه ورته وویل :لومړی غسل وکړه اوبیاپاک کالي واغونده ، اوبیا دزړه له تله دغه کلمه ولوله:

لااله الاالله محمد رسول الله

ژباړه :له الله پاک پرته بل خدای ج نشته او حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله پاک استازی دی.

هغه سمدلاسه ولاړ، غسل یې وکړ، جامې یې بدلې کړې، بیایې کلمه ووېله .بیایې وویل :یوبل سړی هم شته، چې که هغه ایمان راوړي، نو ورسره به د عبدالاشهل ټول قام ایمان راوړي. زه یې اوس تاسو ته را استوم ،کله چې دا ولاړ هغه راغی او حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه یې چې ولیده،

نو سمدلاسه يې وويل :زه دالله پاک په نامه لوړه کوم ،چې په دې سړي کې نوی بدلون راغلی دی ، ددوارو تر خبرو وروسته حضرت سعد بن معاذ رضی الله عنه په ډیر غصه د حضرت مصعب رضی الله عنه ته ورغی ، دا ورته په غصه و ، خو حضرت مصعب رضی الله عنه هماغسې نرمې خبرې ورته وکړې، چې پرده يې اغېز وکړ اوده هم ایمان راوړ، چې ورسره د ده ټولې قبیلې هم ایمان راوړ.

[۱۰]: حضرت مصعب رضی الله عنه له اویا (۷۰) تنه مسلمانانو سره دمکې پرلوړ

حضرت مصعب رضی الله عنه چې په مدینه منوره کې یوه کال ښه خواری وکړه ، د ده د خواږیو له برکته زیات خلک مسلمانان شول ، چې کال بشپړیده ؛ نو ده له خان سره د حج پلمه دحج په شپو ورځو کې اویا (۷۰)تنه مسلمانان دمکې تګ اوبیعت له پاره تیار کړل او ټول ورسره ولاړل ، دا په داسې حال کې وه ،چې تېر کال همدا وخت یوازې شپږ(۶)تنه له یثرب څخه راغلي وو.

دغه نوې ډلې ټولو له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره بیعت وکړ .او په دې توګه د حضرت مصعب رضی الله عنه دخواږیو له برکته په مدینه منوره کې د مسلمانانو شمېره دومره شوه ، چې هلته د مکې د مسلمانانو د ورتګ او هجرت له پاره ته يې لاره آوراه کړه .

له عمر رضي الله عنه نه د شیطان ویره

ژباړن : عطا محمد میاخېل

سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه وایي : عمر بن الخطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ورتللو اجازه وغوښتله، له هغه سره د قریشو ښځې ناستې وې، له هغه سره يې خبرې کولې، ډېرې اوتیرې خبرې يې کولې او د رسول الله په غږ د دوی خبرې لوړې وې، کله چې عمر بن الخطاب اجازه وغوښتله هغوی ولاړې شوې او په بیړه يې پرده وکړه، رسول الله هغه ته اجازه ورکړه هغه چې ورننوت رسول الله خندل، عمر ورته وویل: یارسول الله الله دي خوشاله لره، هغه ورته وویل :دې ښځو ته په تعجب کې شوم، دوی چې زما سره وې او ستا غږ يې واوریده په بیړه يې پرده وکړه، عمر وویل: یارسول الله ته ډېر مستحق يې چې هغوی باید پرده درنه وکړي او ستا د هیبت ساتنه وکړي، هغوی ته يې وویل: ای د ځانونو دښمنانو! زما نه وویریدئ او له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نه ویریدئ؟! هغوی ورته وویں: ته له رسول الله نه سخت او توند خویه يې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: د خطاب زویه! خبرې دي زیاتې کړه، په هغه ذت مې قسم چې زما روح يې په واک کې ده شیطان چې په کومه کوڅه کې تاوویني هغه پرېږدي په بله کوڅه روان شي.

عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ، وَعِنْدَهُ نِسْوَةٌ مِنْ قُرَيْشٍ يُكَلِّمْنَهُ وَيَسْتَكْثِرْنَهُ ، عَالِيَةً أَصْوَاتُهُنَّ عَلَى صَوْتِهِ فَلَمَّا اسْتَأْذَنَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ قُمْنَ فَبَادَرْنَ الْحِجَابَ فَأَذِنَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَدَخَلَ عُمَرُ وَرَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَضْحَكُ، فَقَالَ عُمَرُ أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ . فَقَالَ النَّبِيُّ -صلى الله عليه وسلم- « عَجِبْتُ مِنْ هَؤُلاَءِ اللاَّتِي كُنَّ عِنْدِي فَلَمَّا سَمِعْنَ صَوْتَكَ ابْتَدَرْنَ الْحِجَابَ » . فَقَالَ عُمَرُ فَأَنْتَ أَحَقُّ أَنْ يَهَبْنَ يَا رَسُولَ اللَّهِ . ثُمَّ قَالَ عُمَرُ يَا عَدُوَّاتِ أَنْفُسِهِنَّ ، أَتَهَبْنَنِي وَلاَ تَهَبْنَ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقُلْنَ نَعَمْ ، أَنْتَ أَفَظُّ وَأَغْلَظُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- : « إِيهًا يَا ابْنَ الْخَطَّابِ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا لَقِيَكَ الشَّيْطَانُ سَالِكًا فَجًّا قَطُّ إِلاَّ سَلَكَ فَجًّا غَيْرَ فَجِّكَ » . صحيح البخاري، رقم (3661)، ومسلم، رقم (6355)

اسلامي امارت د درز اچوني پلانونه شنډ کړل

حسن زوی

دا رښتیا ده چې د عالیقدر امیر المؤمنین وفات د اسلامي تاریخ یوه له سترو غمیزو څخه ده؛ د نوموړي وفات اسلامي امارت د ځان لپاره داسې عظیم حادثه بولي چې تر ډېره به یې خلا ډکه نه شي خصوصاً په همدې روانو حساسو شېبو کې چې د اسلامي امارت د مجاهدینو په لاس د نړیوال ستر صلیبي اتحاد د تاریخي شکست وخت را رسېدلی دی.

یقیناً دا غم او فکر ستر و او لاپسې هغه وخت زیات شو کله چې مکار دښمن د دې سترې غمیزې نه د ګټې پورته کولو ډېرې زیاتې هڅې وکړې.

په امارت کې د ننه د درز اچولو؛ دولس د بې اعتماده کولو او د نړۍ مسلمانانو ته د تشویش وراچولو او ناهیلي کولو په موخه یې د خپلو غلامو رسنیو نه ډېر کار واخست او پدې اړه یې ډېر زیات پوچ تبلیغات وکړل؛ ویل به یې چې د ملا محمد مړینه د طالبانو لپاره داسې ضایعه ده چې هیڅکله به جبران نه شي؛ طالبان په خپلو منځونو کې د سختو اختلافاتو ښکار دي او د نوي امیر د ټاکلو پر سر په دوه ډلو ویشل شوي دي؛ دوئ یو د بل پر ضد د جنګ تیاری نیسي چې شاید ډېر ژر په ټول هېواد کې سره په خپل منځي جګړې اخته شي.

ځنې رسنۍ خو په درواغجنو او پوچو تبلیغاتو کې تر دې حده وړاندې ولاړې چې داسې بې اساسه راپورونه یې هم خپاره کړل چې ګواکې د زابل په خاک افغان ولسوالۍ کې خپلمنځي نښتې پیل

شویدی او د اسلامي امارت مجاهدین د هغو کسانو سره په جګړه اخته دي چې د دوئ په وینا یې د نوي امیر سره بیعت ندی کړی؛ ویل به یې چې پدې جګړو کې دواړو لوروته مرګ ژوبله هم اوښتی ده. حال دا چې پدې مفتوحه ولسوالۍ کې نه د مجاهدینو تر منځ اختلافات وو او نه هم کومه کوچنۍ جګړه رامنځته شوی وه.

د دې رسنیو له لارې به ځینو تش په نامه څېړونکو او مبصرینو دا هم ویل چې اوس به په افغانستان کې د دولت او بهرنو ځواکونو ضد جګړه ورو ورو کمزوری شي او ډېری طالبان به له جګړې نه لاس په سر شي

خو لله الحمد چې د دښمن ټولې هڅې بې ګټې؛ ټولې ارادې او شوم پلانونه یې پوچ او ټول امېدونه یې د خاورو سره خاورې شول.

د اسمه ده چې عالیقدر امیر المؤمنین د معاصر تاریخ هغه څېره وه چې نه یوازې د افغانانو بلکې د نړۍ په لرو بر کې یې د ټولو ژمنو مسلمانانو په زړونو کېهغه ځانګړی ځای درلود چې بل هیڅوک یې هم نه لري.

قدر من امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی د شریعت په لارښوونو د استقامت؛ نا متزلزل قیادت، حق پالنې، خداپرستۍ، زړورتیا، دیانت دارۍ، په وعدو وفا، په خپلې حقې خبرې د ټینګ و درېدلو، امانت دارۍ، شریعت پالنې، جهادي اهدافو ته د وفادارۍ؛ عدل او انصاف؛ په خپل ولس د زړه سوي او ترحم، د ټول مسلمان ملت سره د خواخوږۍ، بشر دوستۍ، د دښمن په مقابل کې د متین عزم لرلو؛ یوازې د الله تعالی پر ذات د توکلاو له الله جل جلاله سره د رښتینو اړیکو د اسې زرین بابونه جوړاو راتلونکې تاریخ کې یې ځانته دومره لوړ مقام پرېښود چې د نړۍ په سطحه د سترو مسلمانو اتلانو غوندې به یې مسلمان ولسونه تر قیامته په تاریخ جوړونکو کارنامو وباړي.

هغه چې عام انسان نه و؛ څښتن تعالی لوی عظمت او کرامت ورکړی و واقعیت همدا دی چې دا دومره ښیګڼې، اتلولئ او شاهکارئ خدای د همده په وجود کې نغښتې او د همده په لاس تر سره کړې وې.

پدې ښېګڼو او صفاتو کې چې هغه سیال نه درلود نو وفات یې طبعاً د اسلامي امارت لپاره ډېر تاواني دی خو نه جبرانېدونکی ندی هماغه الله چې هغه یې پیدا کړی او د اصفات یې پکې ایښي وو د هغه په څېر بلکې د هغه نه هم د ښو صفاتو لرونکي پیدا کولی او ملت ته یې د لوی خیر ذریعه ګرزولای شي.

نو داسې نده چې د هغه په وفات به خدای مکړه اسلامي امارت ړنګ شي یا به د قابض دښمن او لاسپوڅو په مقابل کې مقدس جهاد ودرېږي؛ هغه چې د اسلامي امارت په بڼ کې کوم نیالګي کرلي او د زړه په وینو یې پاللي وو هغه هر یو اوس د استقامت نه ډکه داسې و نه ګرځېدلی ده چې نه یې خزان له خپل ځایه ښورولی شي او نه هم بهار؛ دوئ د عالیقدر امیر المؤمنین فکر او کړنلارې ته ژمن دي او د ځان لپاره د ټولو کامیابیو و راز د شریعت د تعلیماتو سره سم د هغه په نقش قدم تلل ګڼي.

د اهمدوئ وو چې د تېرو نېږدې د یارلس څوارلس کلونو راهیسې یې د امیر المؤمنین د هدایاتو سره سم د خپلمنځي شوری له لارې هم د انساني تاریخ د تر ټولو ستر کفري اتحاد په مقابل کې په پوره کامیابۍ سره جنګ جاري وساتلو او هم یې د امارت نظم او وحدت؛ او اوسچې د امیر المؤمنین د وفات اعلان وشو نو بیا یې په ډېر احسن تدبیر، پوره هوښیارۍ او کامل احتیاط په هماغه امیر خلک راټول کړل کوم چې عالیقدر امیر المؤمنین ته تر ټولو زیات اهل ښکارېدلو او تر ټولو زیات اعتماد یې پرې واو په خپل ژوند کې یې خپل ځای ناستی ګرځولی و؛ د خدای په فضل دوئ امارت د نړېدو او درزونو نه وساتلو.

سره له دې چې ټول امارت د نوي امیر المؤمنین محترم ملا اختر محمد منصور تر شاولاړو خو صد آفرین د دې مشرانو په حوصلو او زیرکتیا چې د ګوتو په شمېر څو هغه تنان چې د نوي امیر سره د بیعت نه وروسته کېدل د هغوئ پر ضد کوم اقدام یا یې تهدیدول خو لری خبره وه د هغوئ په باره کې یې نامناسبه لهجه هم و نه کارو له بلکې د ډېرې نرمۍ او همدردۍ نه په ډکو لارو یې هغوئ بیعت کولو ته راغب کړل چې له نېکه مرغه دې هڅو نتیجه ورکړه او د عالیقدر امیر المؤمنین ځوی مولوي یعقوب او ورور یې ملا عبدالمنان په شمول ټولو په خپلې رضا او رغبت د د محترم امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور سره بیعت وکړ او اسلامي امارت چې څرنګه واحد و هماغسې واحد پاتې شو

ولس او ټول مسلمان ملت دې ډاډه وي؛ د دښمن پوچو تبلیغاتو باندې دې غوږ نه ګروي او مطمئن دې او سي چېد عالیقدر امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله وفات به په افغانستان کې د دښمن پر ضد پر روان مقاومت او جهادي بهیر هیڅ منفي اغېز ونلري

ځکه چې روان بهیر د نوموړي لپاره نه و؛ بلکې دا مقاومت د الهي حکم پر بنسټ د دین، ناموس، خاورې او مسلمانانو نه د دفاع؛ د اشغالګرو نه د هېواد د آزادۍ او د سوچه اسلامي نظام د حاکمیت لپاره پیل شوی چې د دې اهدافو تر پوره کېدو به نه یو اځې دا چې روان وي بلکې دا مبارک بهیر به لا پسې ګړندی او قوي شي.

لله الحمد چې د دښمن د ټولو هڅو ناکامي او د جهاد د مبارک بهیر قوت او ګړندیتوب الله تعالی ټولې نړۍ ته ښکاره کړ، همدېدامیر المؤمنین د وفات د اعلان په ورځو کې او ورنه راوروسته د خدای په فضل د هېواد په شمال، جنوب ختیځ او مرکزي برخو کې لوی فتوحات رامنځته شول؛ پراخو سیمو او غونډو ولسوالیو باندې مجاهدین قابض شول؛ لویې فوجي اډې او بېسونه یې فتحه کړل؛ دښمن ته یې ستر ملا ماتونکي ګوزارونه ورکړل چې پدې لړکې د غزني د مرکزي زندان ماتول او ورنه د قوماندانانو په شمول تر ۴۵۰ پورې د مجاهدینو آزادېدل هم د یادولو وړدي خو قندوس فتحه خو هغه ستره فتحه چې له امله یې د کفر ټولې ماڼۍ ولړزېدې؛ د مجاهدینو په مقابل کې د اشغالګرو بهرنو ځواکونو کمزوري او بزدلي نړۍ ته لا زیاته روښانه شوه او د کابل اداره په ټولې نړۍ کې سخته بې اعتباره شوه.

نو ځکه وایو چې د اسلامي امارت مسئولین، ټول مسلمان ملت؛ او زموږ ګران ولس د خپل نوي مشر ملا اختر محمد منصور حفظه الله په اړه مطمئن دی چې هغه به د عالیقدر امیر المؤمنین په نقش قدم روان وي، د بهرني اشغال نه د هېواد او ملت تر آزادۍ او دلته د سوچه اسلامي نظام تر قائمېدلو به جهاد جاري ساتي هیڅکله به هم د خپل اصلي موقف نه تېر نه شي؛ نه به د عالي اهدافو په سر د چا سره سودا وکړي؛ نه به د دښمن اشغال ومني؛ نه به خپل مسیر پرېږدي او نه به هم دښمن ته سر ټیټ کړي.

ان شاء الله تعالی.

نوې فقهي څېړنې

د بانک نوټ ديني ليد لوری (شرعي حيثيت)

(حكم الأوراق النقدية)

(۲) :دبانک نوټ په اړه دوهم نظر

ددوهم نظر خاوندان وايي چې : نوټ پخپله مال اوسوداګريز توکی دی . ځکه راکړه ورکړه اوس ټوله دهمدې نوټ په مرسته کيږي، کاغذ په خپل ځان کې هم يوځه ارزښت اوقيمت لري، خو اوس يې قيمت دود او رواج نور هم لوړ کړی ، لکه قيمتي کانې او مرغلرې، چې قيمت يې که څه هم ډير لوړ دی، خوبياهم د مال او سوداګريز توکي بڼه لري .

یاد نظر په هند کې د رام پور علماوو اودغه راز دهند نامتو مولانا احمد رضا خان لاره ، شیخ عبدالرحمن السعدي ته هم دغه نظر غوره ښکاري[1]. مولانا احمدرضا خان دخپل موقف دتایید ځانګړې رساله ((کفل الفقیه الفاهم فی أحکام القرطاس والدراهم))ترنامه لاندې لیکلې ده، دا په خپله رساله کې پردې ټینګار کوي، چې نوټ سوداګریز توکی (مال) دی ، دپور سند، نه دی ، دی لیکی :

اما أصله فمعلوم أنه قطعة کاغذ ، والکاغذ مالٌ متقومٌ و مازادته هذه السکة إلا رغبة للناس الیه ، و زیادة في صلوح إدخاره للحاجات وهذا معنی المال ای یمیل الیه الطبع ویمکن إدخاره للحاجة.

ژباړه : دنوټ اصل خو موږ ته څرګند دی، چې دکاغذ یوه ټوټه ده اوکاغذ

مال دی ،چې قیمت لري ،خوکله چې نوټ سیکه وبلل شوه ؛ نودخلکو لیوالتیا ورسره زیاته شوه ، بله داچې دا ټیا پرمهال یې زیرمه کول، هم زیات اسانه دي ، دیوه توکي سوداګریز مال بلل همداسې وي، چې دخلکو لیوالتیا ورسره زیاته وي اوخلک یې د خپلو راتلونکو اړتیاوو بشپړولو له پاره زیرمه کړای شي .[2]

ددوهم نظر دخاوندانو دلایل :

لومړی دلیل :

سوداګریزو توکو اوسامان (عروضو) چې څومره تعریفونه اوځانګړني بیان شوي هغه ټولې په اوسني نوټ کې شته لکه لاندې تعریفونه یې تاسو ګورئ :

لومړی تعریف : العرض هو کل ماعدا العین و الطعام من الاشیاء کلها .

ژباړه : له سرو اوسپینو زرو پرته نور ټول شیان دسوداګریزو توکو (عروضو) تر سرلیک لاندې راځي .

دوهم تعریف : هو : ماسوی النقد :

---

1 فتاوی سعدیه : له ۲۷نه تر ۲۹مخ پورې .

2 کفل الفقیه الفاهم فی احکام القرطاس والدراهم مخ ۱۳دمولوي احمدرضاخان بریلوي لاهور شبیر برادز اردو بازار لاهور . مولوي احمدرضاخان په هند کې یوډیره ناندریزه څېره ټېره شوې ،د دیوبند مدرسې له نامتو علماوو سره یې دفرعي مسایلو په سر ډیرې شخړې او مناظرې وکړې ، په خپلو کتابونوکې یې ډیر بدر رد اوسپکې سپورې ورپسې ولیکلې ، په ټول هند کې یې ستري ناندرۍ را وپارولې ، مذهبي شخړې راولاړې کړې ،دمسلمانانو ترمنځ یې ستر فکري واټنونه را منځ ته کړل ، له پوهاند رشاد مرحوم نه مې اوریدلي وو ، چې نوموړي په خته بریښ پښتون ملا و .

ژباړه :له زرو پرته نورټول شیان سوداګریز توکي ګڼل کیږي.

دریم تعریف : هوکل مالا زکاة في عینه.

ژباړه : سوداګریز توکي هغه دي په ذات کې یې زکات نه واجبیږي .

څلورم تعریف : هو ماعدا الحیوان ، والطعام ، والنقد

ژباړه : له ژوي ،خوراکو توکو اوزرو پرته نورټول شیان توکي دي.

دوهم دلیل :

دنوټ په مرسته چې کله یوځوک توکي اخلي ؛ نوعقد پرخپله پر نوټ خلک بولي، په سرو او سپینو زرو یې ځوک نه بولي،بیا دنوټ قیمت تاکل کیږي، چې له خلکو سره لیوالتیا پیدا شي ، نوټ په ځان کې له زرو سره ډیر توپیر لري ،ځکه نوټ یواځې یو کاغذ دی ، که څه هم په چلښت کې د زرو دروپو په څیر اوس شوي ،سپینو زرو ته ورته والي لري ،خود ورته والي معنا یې دانه ده ،چې د سپینو اوياسر وحکمونه وربانديې پلي کړو ، تاسو وګورئ، مرغلري اوقیمتي کانې چې که څه هم کله داسې پېښیږي چې قیمت یې له زرو سره برابر اوياهم تر ې پورته وي ،تاسو ووایاست مور داسې قیمتي کانو ته زر ووایو ؟ هېڅکله نه ؛نو نوټ هم دغسې وبولئ .

دریم دلیل :

نوټ نه تلل کیږي اونه هم وزن کیږي ،نه ورته داسې بل څه نشته، چې

چې دهغه شئ حکمونه وربانديې پلي کړو.

څلورم دلیل :

فقهاوو ویلي : نوي مسایل باید هغوی ته ټرډې مسایلو باندې قیاس کړل شي اوبیاپرې دپخوانومسایلوټول حکمونه پلی شي، د همدې قاعدې غوښتنه ده چې: نوټ هم باید د(عروضو) تر حکم لاندې راشي ځکه توښه (عروض) دغسې دي ،چې نه پیمانه کیږي اونه هم په وزن پلورل کیږي ،نه هم چارپای او نه هم ځمکه وي .

پنځم دلیل :

که چېرته نوټ واکمن له چلښت څخه وغورځوي، نوبیایې هېڅ ارزښت نه پاتې کیږي، داپه خپله ددې خبرې دلیل دی، چې نوټ په ځان کې زر نه دي ،بلکې دلنډ وخت له پاره زر ګڼل شوي دي ،ځودخلکو پام ځانته واړوي، خوسره اوسپین زر داسې نه دي، هغه تل ارزښت لري، له همدې امله وایو چې: نوټ د زرو بدیل اوياهم ورته بلل یوداسې قیاس دی ،چې زړه ته یې سمون نه لوبیږي .

د دوهم نظر په رڼا کې د نوټ شرعي حکمونه:

لومړی حکم :

ترټولو خطرناک اوداندښنې ور حکم ،چې ددې نظر خاوندان یې بیانوي، هغه دادي چې : کاغذي نوټ سودي توکی نه دی، له همدې امله دوی وایي چې د نوټو په خپل منځ کې ګټه اوسود روادی، په دې معنا چې دیونوټ په بدل کې، دوه برابر نور نوټونه اخیستل روادي ،داسې چې احمد کولای شي، چې خپلې زر روپۍ له زبیر سره په اته سوه روپیو بدلې کړي، خودوهم ډول سود چې ربا النسئة ورته وایي ،هغه

پکې روانه دی، په دې معنا چې څوک چاته زر روپۍ پور ورکړي اوسباته ترې څه دپاسه زر روپۍ غواړي، مولانا احمد رضاخان دغه خطرناکه مسئله داسې بیانوي :

نعم يجوز بيعه بأزيد من رقمه وبأنقص منه كيفما

ژباړه : پرنوټ چې څومره قیمت لیکلی وي ،ترهغه یې په زیات اویاهم کم قیمت پلورل په خپله خوښه پلورل اوبدلول سهي دي[3]

فتاوي سعديه دغه حكم داسې بيانوي :

فتعين أنها سلعٌ يثبت له مايثبت لسائر السلع من زيادة ونقصان ، وجواز بيعها بعضها ببعض مماثلاً أو متفاضلاً[4]

ژباړه : نوداخبره څرګنده شوه چې نوټ یودول سوداګریزه توښه ده، چې دنورو مالونو په څېر په بدلون کې یې کمښت او زیادت پروا نه لري ، که څه هم دواړه نوټونه یوجنس وي اویایې جنسونه سره بیل وی .

یاد حکم شیخ سلیمان الحمد په خپله فتوا کې داسې بیانوي :

إذا علم هذا فلامانع من بيع الورق على اختلاف انوعه ومسمياته من الريالات أو الدنانير أوالجنيهات بأحدالنقدين من الذهب والفضه متفاضلاً أو نساءً ولا دخل للربا في شئ من ذلک ، لأن الورق ليس من الأموال الربوية ، ولأن الرباء مختصٌ بالمكيلات ، والموزنات ، والورقُ ليس بمكيلٍ ولاموزنٍ .

ژباړه : دنوټوپه ادلون بدلون کې هیڅ راز ربا نشته، ځکه چې نوټ ربوي مال نه دی، بلکې سود یواځې په هغه څه کې راځي، چې تلل کیږي اوياهم پیمانه کیږي.[5]

دوهم حکم :

په نوټونوکې که چېرته د سوداګري نیت نه وي، نوبیاپرې زکات هم نشته.

دریم حکم :

دنوټونو له لارې مضاربت هم نه شي کیدای، ځکه چې مضاربت کې داخبره

ضروري ده، چې پانګه د درهم اویا دینار په بنه وي، اوبابه هم دمسو روپۍ (نقود) وي په داسې حال چې نوټ دغه یوهم نه دی .

دوهم نظر ته کره کتنه :

ددوهم نظر سره سم په نوټوکې سود دواړه ډوله نشته، داسې چې نه په نغدو کې (ربا الفضل)اونه هم په پور کې (ربا النسئة) شته ، دا ډیره خطرناکه خبره ده، ځکه په دې سره به دخلکو پرمخ د ربا دروازې په دواړوپټ (مخونه) پرانیستل شي، ځکه ددې موقف علماء وایي،

---

3 كفل الفقيه الفاهم فى احكام القرطاس والدراهم ۴۲مخ

4 فتاوى سعديه : مخ .

5 د «البلاد السعودية» مجله ۲۹۲۷ګڼه (نیټه۲۲/ ۶/ ۱۳۷۸هـ)

المعاملات المالية المعاصرة فى الفقه الاسلامي دډاکتر عثمان شبير ليکنه بيروت درالنفايس درېيم چاپ ۱۴۱۹هـ

چې نوټ سامان دی، داسې څه شئ نه دی، چې تلل کیږي اویاهم پیمانه کیږي او سود خو په داسې څه کې راځي، چې هغه تلل کیږي اویاهم پیمانه کیږي، دغه راز نوټ ثمنیت هم نه لري، نودسود منځ ته راتګ لامل پکې نشته.[6]

په دې اړه دالفقه الاسلامي مولف مرحوم داکتر وهبه زحیلی لیکی :

....إن من مظاهر انحطاط الفكر ودواهي العلم أن يقال: (إن الأوراق النقدية لا توزن، فلا تعتبر من الربويات، بل تأخذ حكم العروض التجارية)،

.....وهذا جهل واضح بحقيقة النقود، فإنها ثمن اصطلاحي ..7

ژباړه : دابه ستره ناپوهي اودلوی ځور خبره به وي، که مور د بانک نوټ په اړه داسې ووایو : څرنګه چې نوټ نه تلل کیږی ؛نوسودي مال نه دی او د سوداګریزو توکو حکم لري ....ځکه دغه ډول پریکړه ،د روپو د حکمونو په اړه دستر ناپوهي ګواهي ورکوي، ځکه دغه بانک نوټ اوس رواجي روپی ګرځیدلی دي .

ددې نظر خاوندان وایي :چې نوټ دعروضو ترچټر لاندې راځي ،داخبره ناسمه ځکه ده، چې یاد تعریفونه فقهاوو بیلابیلو بحثونو غوښتونو ته په پام سره لیکلي دي ، دغه تعریفونه عام نه دي ، د مثال په ډول د زکات په باب کې یې د چارپای (حیوان) د ځمکې د زکات اودغه راز د سپینو او سرو د زکات حکمونه یاد شوي دي ،بیاچې د عروضو یادونه راغلې ؛ نو د هغه مقام غوښتنې ته په پام سره یې دعروضو یاد تعریفونه کړي ،ځکه دهغه ځای غوښتنه همداسې وه، لکه دمالکیه فقهاوو په کتابونو کې راځي : المراد بالعروض هنا مقابل الذهب و الفضة

ژباړه :دلته له عروضو څخه موخه هغه څه دي، چې سره اوسپین زر نه وي.[8]

چې (دلته) تکی یې ورسره لیکلی ،ددې تکي موخه داده، چې مور د عروضو کوم تعریف کړی، هغه خاص دی ، عام نه دی .

په دلایلو کې داخبره هم یاده شوي ده ،چې کله حکومت نوټونه له چلښت څخه وغورځوي ؛ نوبیایې قیمت هم له منځه ځي، نو مور وایو چې د نوټ په اړه دغه بحث به هغه مهال وي ، کله چې نوټ د روپیو په څیر چلیږي او که چیرته یې حکومت له چلښت نه وغورځوي ، بیاله داسې نوټ سره زمور کار نشته او مور وربانديې له سره بحث نه کوو .

---

6 دغه نظر مولانا عبدالحی لکهنوی رحمه الله په خپله فتوا دریم توک ۱۷مخ کې هم غندلی ، دغه راز دغه نظربانديې ښاغلی استاد عبداللطیف فرفور په خپله مقاله کې نیوکي کړي دي، ددغو دلایلو کره ځوابونه یې ویلي دي ، وګورئ دمجمع الفقه الاسلامي مجله : دریم دشمیره ۳توک ۱۷۴۵مخ دیادونې ورده چې اوس دغه څه دپاسه دیرش توکېزه مجله د عربي کتابونو مشهور بریښنایي کتابتون (شامله) ته هم را ورل شوې

7 الفقه الاسلامی : 3752/5

8 الخرشي على سيدخليل د محمد الخرشي مالكي ليكنه دوهم توک ۲۹۵مخ ليكنه بيروت دارالصادر .

دمتفکر سپین سترګي

جبیر احمد مجاهد

دوه ورځي وړاندې دميزان په شپږمه نيټه په اقتصادي اوپوځي لحاظ دشمال دوهم ستراتيژيک ولايت کندوز ، داسلامي امارت دسرسپارلو مجاهدينو له لوري ديوه قوي پوځي پلان اوبريد له مخي دځوساعتونو په اوږدو کې تسخيراو ددښمن ځواکمن امنيتي کمربندونه يوپه بل پسي مات اودړې وړي شول .

دکندوز وفتحه ، ځکه له ډيراهميت اوارزښت ځخه دکه وه او ده ، چې دتيرو ځوارلسو کلونو په اوږدو کې مجاهدينو ديوه ولايت دمرکز اوښار دنيولو لپاره زړه لدې املـه نه ښه کاوه چې په ښاري سيمو کې دښمن له هره پلوه ځان مستحکم بالـه ، په امنيتي کمربندونو سربيره يې دښارونو دساتني اودفاع په منظور ګام په ګام کلکي پوستي اچولي اوشپه ورځ يې دښارونو دځار او خوندیتوب لپاره قدم په قدم سياري ګزمي ترسره کولې .

همدارنګه داسې فکر هم کيده چې دولايتونو په ښارونو کې معمولا زياتره هغه خلک او افراد ميشت اوځای پرځای شوي دي چې هغوی داجيرې اداري اوخارجي قـواوو سره يـو ډول اړيکي او مرسته لري اوله اطرافوځخه يې دمجاهدينو له ډارې ښارونو ته پناوي وروړي ، نو که مجاهدين ښارونو ته داخل شي ، داسې نه چې هغوی يې هم مخ ډب او مزاحمت يې وکړي .

نوپه دغسي حالاتو او شرايطو کې مجاهدينوطبعا په ښاري سيمو کې په اسانی جګړو او دښارونو نيولو ته امادګي نه درلوده ؛ خو دکندوز عظيمي فتحي دغـه ټول اټکلونـه برعکس ثابت اووړول ، دمجاهدينو لـه يـوه غښتلي بريـد سره دکندوز ښار ټول امنيتي کمربندونه مات داربکيانو او دملي امنيت دجاسوسانوځالي دړې وړې او ديوه ساعت په اوږدو کې دملي اردو اوپوليسو شاوخوا دری زره تنه پوځيان چې په مجهزو وسايلو اووسايطو سنبال وو ، تري تم او وتښتيدل .

د کندز دفتحې کومې صحني او انځورونـه چې خپاره شوي ، تراوسه دهيڅ کوم ملکي وګړي دمرګ ژوبلې راپور نلري اونـه هم دکومې بـدنظمی ، زور زيـاتي او دمجاهـدينو دځان ښـودني علايـم وړاندې کوي ، بلکې دالله تعالی ددين لښکري په ډيرې عاجزی اوسرلوړی دکندوز ښار په واټونو کې ګرزي ، دالله تعالی حمد اوثنا وايي ، ولس ته داطمينان او ډاډ تلقينونه ورکوي ، په مقابل کې عام ولـس هـم دهيڅ ډول ويـرې او وهـم احساس نـه کـوي يوځای لـه مجاهدينو سره دښار په چوکونو او سرکونو ګرزي ،دمحبت اظهار ورسره کوي ، يوځای انځورونه ورسره اخلي او دشجاعت او ميرانې صحني يې ثبتوي .

دکابل اداري متفکر ! او وزیران یې ددې پرځای چې په کندوز ولایت کې دخپل تاریخي شکست او بدنامی له امله په جرات دخپلې ماتې اعلان وکړي اودمجاهدینو تکیتک ته سلامي وکړي ، برعکس پرون ماسپښین په ارګ کې په خړو ستر ګودخبریالانو مخ ته رابنکاره شول او په هغوی یو څو بهانو اوپلمویې دکندوز دشکست په اړه سخوند وواهه چې هغه وړو ماشومانوته هم دمنلواوباور ورنه وي.

ریخشند ، متفکر وویل مونږ ځکه کندوز پریښود چې هلته ملکي خلکو ته تلفات اووښتل ، خو په عین حال کې یې زیاته کړه چې نور اضافي کندکونه له مرکز څخه کندوز ته ورروان او په هر قیمت به کندوز بیرته نیسي .

له سپین ستر ګي متفکر څخه پوښتو چې که یوځل له تاسره دملکي خلکو دتلفاتو غم وای اوتیار په لاس کې پروت کندوز دې هم له همدې غمه پریښود ، نو اوس چې ته بیرته کندوز نیسي او له سره هلته خپل قطعات ځای پرځای کوي ، نو بیا خو به په بسار هوایی اوځمکني ناترسه بریدونه هم ترسره کوي او فکر دې کړی چې بیا به څومره ملکي خلکو ته تلفات اوړي !!؟

معلومیږي ، چې متفکر ه ، ستادغه استدلال سخت سولیدلي او بې بنیاده دی ، ځکه که دې له وس پوره وای او کندوز دې ساتلی شوای ، دکندوز په واټونو کې به دې دوینوریالي بهولي واي ، خو کندوز به دې له لاسه نه ورکاوه !

په هر صورت ، پورته واقعیتونو ته په کتو دکندوز فتح د مجاهدینو لپاره یوه داسې بریا ده چې دتکنالوژی بندګان ! اوپه ډاګه دژوندیو ککړو اټکل او تصور یې عمق اوتل ته نشي رسیدلای ، ځکه که خبره دتجهیز ، پوځي سنبالښت او ډالرو وای ، نو دامریکا اوناټو په لاس دجوړې ملي اردو مجهزو کندکونو باید دبې وسلو اوتش لاسو طالبانو په لاس په کندوز کې دغه ډول تاریخي ماته او شکست نه وایي لیدلي !!

بایبل یعنې څه؟

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد:

عیسایانوبایبل په دووبر خوپښلی، کوم ته چې دوی بایبل عهدقدیم یاپخوانی انجیل اوبایبل عهدجدید یانوی انجیل وایي.

دپخوانیوانجیلونوپه هکله وایي چې داکتابونه ،الله پاک ترحضرت عیسی علیه السلام په مخکینیوپیغمبرانونازل کړي دي.

اودنویوانجیلونوپه هکله ادعاء کوي چې چادالیکلي ،هغوی ته الهام شوی ،خوداټول دحضرت عیسی علیه السلام له دې دُنیاڅخه ترتلووروسته لیکل شوي دي.

دمخکینو اونویوعهدنامو په یوځای کولوسره انجیل جوړیږي.

بایبل په اصل کې دیوناني ژبې نوم دی چې معنی ټې ده: کتاب!!

دمخکینیواونویوانجیلونوپه یوځای کولوسره ټول: ۷۳کتابونه کیږي چې تر۱۶۰۰عیسوي کال پوري رائج وو،خوبیاکینګ جیمزپه ۱۶۱۱کال کې دیوه فرمان په ذریعه اوه۷کتابونه له بایبل څخه وایستل اوپاتې ۶۶کتابونه ټې پریښودل اودټولوپه یوځای کوبوسره ټې دیوه کتاب په شکل کې شائع کړل اودواړوته ټې دایونوم ورکړ:

The Holy Bible(Containing old and new testament)

Commonly known as the Authorised(king james version)

اوس په عمومي توګه دغه بایبل دهرعیسائي سره وي. که ټې لولي اوکه ټې نه لولي اوپه خاصه توګه مبلغین له دغه بایبل څخه وعظ کوي.(عیسائیت کې باطل عقیدوں کی حقیقت،منحاص:۹۶)

وصلی الله علی نبینامحمدوعلی آله واصحابه اجمعین

لیکوال: مولوي عصمت الله عزام

از فتوحات درخشان مجاهدین تا تبلیغات دروغین دشمن

نوشته: حقانی هراتی

پس از فتح شهر قندوز و آغاز فصل جدید فتوحات به دست شیر مردان مجاهد، ادارهٔ اجیر کابل و حامیان خارجی آن، نسبت به گذشته بسیار مایوس و درمانده به نظر می آیند؛ اینکه پس از چهارده سال اشغال، امریکایی ها و قوای ائتلاف صلیبی شاهد سقوط یک ولایت مهم افغانستان به دست مجاهدین است؛ این موضوع بسی بر اربابان جاه طلب قدرت و مافیای ترویزم بین المللی گران تمام می شود و گویا از زمان سقوط قندوز در شوک مرگبار فرو رفته و هرگز باورشان نمی شود تمام کاشته ها و داشته های شان اینگونه در آن واحد، به تصرف مجاهدین در آمده و ادارهٔ اجیر و بی کفایت شان کوچک ترین عکس العملی نشان داده نتواند و در مقابل یورش شیران مجاهد بسی ضعیف و ناچیز جلوه کند.

